وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**1قوس_سال 1403**



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


**د ټولنیز خوندیتوب کلستر له مهاجرینو چارو وزارت سره ګډه ناسته وکړه------------------------------------------1**

**نشست کمیته توزیع زمین برای برگشت کننده گان، در ولایت نورستان برگزارشد -----------------------------------2**

**میدان وردګو کې سلګونو کورنیو ته د نغدي مرستو د وېش لړۍ پیل شوه -------------------------------------------2**

**اسپانیا لسګونو زرو بې اسناده کډوالو ته اسناد ورکوي ------------------------------------------------------------3**

**نظرپوښتنه: د اروپایانو په آند غیر منظم مهاجرت او ترهګري لوی ګواښونه دي ------------------------------------4**

**آلمان: افزایش رقم اطفال مهاجر که در خانه های اجتماعی و خانواده های سرپرست بسر می برند --------------------6**

**سازمان ملل: حدود ۵۴۰ هزار نفر از لبنان به سوریه فرار کرده اند ----------------------------------------------7**

# متن کامل اخبار

## د ټولنیز خوندیتوب کلستر له مهاجرینو چارو وزارت سره ګډه ناسته وکړه

د وزارت ویب سایت



**د ټولنیز خوندیتوب کلستر مسولینو د مهاجرینو چارو وزارت د پلان او پالیسۍ له رییس ښاغلي محمودالحق احدي سره ناسته وکړه.**

**په دې ناسته کې د وزارت ځینو مرکزي مسولینو هم ګډون کړی و، چې د مهاجرینو چارو وزارت او د ټولنیز خوندیتوب کلستر ترمنځ د همغږۍ او د مرستو په اړه پکې څرګندونې وشوې.**

**د ټولنیز کلستر استازو د خپلو کړنو او فعالیتونو په اړه معلومات شریک کړل او ویې ویل، چې دوی غواړي په راتلونکي میلادي کال کې د مهاجرینو چارو وزارت له لوري د بېځایه شویو او راستنېدونکو او اړمنو اړتیاوې هم د خپل کار په پلان کې ونیسي.**

**د وزارت د پلان او پالیسۍ رییس ښاغلي احدي د دوی د خدمتونو ستاینه وکړه او په اړوندو برخو کې یې د مهاجرینو چارو وزارت د همکارۍ ډاډ ورکړ.**

**دغه راز په دې ناسته کې پر راتلونکو ناستو او پر لا همغږۍ او همکارۍ ټینګار وشو.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## نشست کمیته توزیع زمین برای برگشت کننده گان، در ولایت نورستان برگزارشد

ویب سایت وزارت



**نشست اعضای کمیته توزیع زمین برای برگشت کننده گان مطابق به فرمان عالیقدر امیر المومنین و تطبیق طرز العمل آن، بتاریخ 29 عقرب، در آمریت امور مهاجرین ولایت نورستان برگزارشد.**

**در این نشست در مورد چگونگی تطبیق فرمان متذکره بحث صورت گرفته شاملین افزودند که ساختار جغرافیایی ولایت نورستان بسیار پیچیده بوده و زمین مناسبی در خصوص اراضی دولتی وجود ندارد و اداره اماراتی هیچ زمین دولتی را شناسایی نکرده اند.**

## میدان وردګو کې سلګونو کورنیو ته د نغدي مرستو د وېش لړۍ پیل شوه

د وزارت ویب سایت



**په میدان وردګ ولایت کې له ۶۵۷ کورنیو سره د نغدي مرستو د وېش لړۍ پرون د لړم پر دیرشمه پیل شوه.**

**دا بېځایه شوې او اړمنې کورنۍ دي، چې د د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له خوا هلته په جلرېز او نزخ ولسوالیو کې اړمنې پېژندل شوې وې او د وستا موسسې له لوري ورته ۱۴زره ۱۱۰ افغانۍ وېشل کېږي**

## اسپانیا لسګونو زرو بې اسناده کډوالو ته اسناد ورکوي

مهاجرنیوز



**اسپانیا یوازنۍ اروپایي هېواد دی چې غواړي د اقتصادي دلایلو له کبله د قانوني اسنادو ترلاسه کول اسانه کړي. د دغه رېفورم له امله په کال کې شاوخوا ۳۰۰ زرو بې اسناده مهاجرو ته سندونه ورکول کېږي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**د اسپانیا حکومت د سه شنبې په ورځ (د نومبر په ۱۹) د یو ریفورم په تصویبولو سره اعلان وکړ، په پام کې لري چې بې اسناده کډوالو ته د زدکړیزو پراګومونو له لارې او یا د کاري او کورنیو دلایلو پراساس اسناد ورکړي.**

**د اسپانیا د ادغام او د کډوالۍ چارو وزیرې الما سایز وویل: «هدف مو دا دی چې اسپانیا کې شته کډوالو ته د اسنادو د ورکولو طریقې پیاوړې او پراخې کړو ترڅو دوی وکولی شي چې د نورو [اسپانویانو] په شان خپل ژوند په بشپړه توګه پر مخ یوسي: [یعنې] حقونه او مکلفیتونه ولري«.**

**دغه پرېکړه چې تېرو ۱۳ کلونو کې تر ټولو مهم ریفورم بلل کېږي د اقامت کارتونو د ترلاسه کولو لپاره قانوني پړاوونه کموي، د بهرنیو کارګرو حقونه خوندي کوي، د کار موندلو د ویزې موده له درېو میاشتو څخه یو کال ته لوړوي او د اسنادو د ترلاسه کولو لپاره نوې کتګورۍ معرفي کوي. د اسپانیا حکومت په پام کې لري چې هر کال شاوخوا ۳۰۰ زره بې اسناده کډوالو ته اسناد ورکړي.**

**د ټولنیزې بیمې ۱۴ سلنه بهرنیان ورکوي**

**یادې وزیرې یوې خبرې غونډې ته وویل: «لکه څنګه چې موږ په تکرار سره ویلي ګڼ ملي او نړیوال ارګانونه فکر کوي چې اسپانیا د خپل [اقتصادي] ژوند د ثابت ساتلو لپاره په کال کې شاوخوا ۲۵۰ تر ۳۰۰ زره بهرني کارګرو ته اړتیا لري«.**

**الما سایز زیاته کړه چې هره میاشت د ټولنیزې بیمې ۱۳،۶ سلنه یې د شاوخوا ۲،۹ میلیونه بهرنیانو له خوا ورکول کېږي چې دا رقم د تېرو دوو کلونو په پرتله دوه سلنه زیات شوی دی.**

**هغې دا هم وویل: «لکه څنګه چې [لومړي وزیر پدرو] سانچز څو اونۍ مخکې وویل اسپانیا باید د یوه پرانستي او پرمخ تلونکي او یا یوه تړلي او بې وزله هېواد ترمنځ یو انتخاب وکړي. موږ لومړنۍ لار انتخاب کړې«.**

**اسپانیا یو له هغو نادرو اروپایي هېوادونو دی چې د فرانسې، جرمني او ایټالیا پر خلاف د کډوالو منلو ته چمتووالی ښیي. د اسپانیا لومړي وزیر د اکتوبر په پیل کې د دغه هېواد پارلمان ته ویلي وو» :مهاجرت د شتمنۍ معادل دی. له کډوالۍ پرته موږ په راتلونکو کلونو کې اروپا کې هغه ۳۰ میلیونه خلک له لاسه ورکوو چې اوس په کار بوخت دي. کډوالي یوازې د انسانیت او بشردوستۍ مسله نه ده، زموږ د اقتصاد او پرمختګ لپاره هم اړینه ده«.**

**د ادغام او کډوالۍ وزیرې له خوا د ورکړل شویو شمېرو له مخې، د ۲۰۲۳ په پای کې شاوخوا ۲۱۰ زرو کډوالو اسپانیا کې داسې غوښتنې ثبت کړې وې چې هدف یې د تابعیت ترلاسه کول وو. دغه شمېرې د ۲۰۲۲ په پرتله شاوخوا دوه نیم چنده زیاتوالی ښیي .**

**اسپانیا د هغو کډوالو له څېو سره مخ ده چې له لوېدیځې افریقا څخه قناري ټاپوګانو ته د اوښتو هڅه کوي. په روان کال کې نږدې ۴۰ زره کډوال دغو ټاپوګانو ته رسېدلي چې دغه رقم د تېر کال د همدې مودې په پرتله (۳۲۰۰۰) زیاتوالی ښیي.**

## نظرپوښتنه: د اروپایانو په آند غیر منظم مهاجرت او ترهګري لوی ګواښونه دي

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



پر اوکراین د روسيې یرغل او رامنځته شوې جګړه د اروپایي اتحادیې د وګړو لپاره یوه مهمه ستونزه ګڼل کېږي، خو د یوې نظرپوښتنې پایلې ښیي چې غیر منظم مهاجرت او ترهګري تر دې لا زیاتې اندېښنې رامنځته کړې دي.

د آلمان د برټلسمن په نوم بنسټ په غوښتنه یوه نظر پوښتنه تر سره شوې ده. د دغې نظرپوښتنې په چوکاټ کې د ټولو ۲۷ هغو اروپايي هیوادونو وګړي پوښتل شوي چې د اروپايي اتحادیې غړیتوب لري. د نظرپوښتنې پایلو ښودلې ده چې و سولې ته د ممکنه ګواښونو په تړاو د پوښتل شوو تر منځ په سیمه‌یزه توګه توپیرونه شته .

د دغې نظرپوښتنې په ترڅ کې له پوښتل شوو ۲۶٬۰۰۰ څخه زیاتو ګډونوالو له منځه، ۲۵ سلنه کسانو د سرحدي امنیت د خرابوالي په اړه خپله تر ټولو زیاته اندیښنه څرګنده کړې، په داسې حال کې چې ۲۱ سلنه د ترهګریزو بریدونو په اړه اندېښمن وو.

د ۱۹ سلنې لپاره سایبري بریدونه تر ټولو لوی ګواښ و، په داسې حال کې چې ۱۸ سلنه د بهرني برید په اړه اندېښمن وو او ۱۷ سلنې منظم جرمونه د لوی ګواښ په توګه یاد کړي دي.

په جرمني کې ۲۳ سلنه ګډونوالو ترهګري د اروپايي سولې لپاره تر ټولو لویه ستونزه یاده کړه. دا اندېښنه ښايي د ۲۰۲۴ کال د اګست په وروستیو کې په زولینګن کې د ترهګریز برید له امله لویه شوې وي. دا برید چې یو سوریايي وګړي ترسره کړی و او اسلامي دولت یې د مسئولیت ادعا وکړه. په دغه برید کې درې کسان ووژل شول. نظرپوښتنه د زولنګن د برید لږ وروسته د ۲۰۲۴ کال په سپټمبر میاشته کې ترسره شوه.

نظرپوښتنې سیمه‌ییز توپیرونه هم څرګند کړل. په پولنډ کې چې له اوکراین سره ګډه پوله لري، ۲۹ سلنه ګډونوالو نظامي برید د اروپايي سولې لپاره تر ټولو لوی ګواښ ګڼلی و .خو برعکس، په هسپانیه کې یوازې ۱۶ سلنه خلکو دغه نظر شریک کړی و.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

دا نظرپوښتنه د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر په میاشت کې د لتانا نومي سروې شرکت له خوا ترسره شوې وه چې په کې د اروپایي اتحادیې په کچه ۲۶٬۴۵۴ کسان ګډونوال وو او د تېروتنې حاشیه یې ۰٫۸ سلنه وه.

د برټلسمن بنسټ چې په ۱۹۷۷ کال کې جوړ شوی، په منظمه توګه د زده‌کړې، ډیموکراسۍ، ټولنې، روغتیا، کلتور او ساینس په اړه څېړنې خپروي.

## آلمان: افزایش رقم اطفال مهاجر که در خانه های اجتماعی و خانواده های سرپرست بسر می برند

مهاجرنیوز



در آلمان، ۲۱۵ هزار کودک دور از خانواده‌های خود زندگی می‌کنند. براساس گزارش اداره احصائیه فدرال آلمان، این آمار به‌ویژه با افزایش تعداد پناهجویان نوجوان و بدون همراه اندکی افزایش یافته است.

بر اساس آمارهای سال ۲۰۲۳، در آلمان حدود ۱۲۸ هزار نوجوان در خانه‌های اجتماعی یا لیله ها اطفال و حدود ۸۷ هزار نفر دیگر در خانواده‌های که حاضر به مراقبت کودکان اند، خانواده های سرپرست، نگهداری می‌شوند. این تعداد ۴ درصد بیشتر از سال گذشته است .بنابراین، تعداد این کودکان برای اولین بار از سال ۲۰۱۷ افزایش یافته است، پس از اینکه بین سال‌های ۲۰۱۸ تا ۲۰۲۲ کاهش یافته بود.

هر دهمین مورد به ورود بدون همراه مربوط می‌شود

**این افزایش عمدتاً به نوجوانان مهاجری مربوط می‌شود که بدون همراه وارد آلمان شده‌اند و پس از پذیرش موقت توسط دفاتر خدمات اجتماعی، بیشتر در خانه‌های اجتماعی، واحدهای مراقبتی یا خانواده‌های مستقر می‌شوند.**

**در سال ۲۰۲۳، حدود ۲۰ هزار و ۵۰۰ نوجوان که پس از ورود بدون همراه در کشور پذیرش موقت شده بودند، در خانه ها یا خانواده های سرپرست تحت مراقبت قرار گرفتند. این تعداد ۱۰ درصد از کل موارد را تشکیل می‌دهد.**

**مدت زمان متوسط مراقبت دو و نیم سال است**

**برای این نوجوانان، مدت زمان مراقبت در خارج از خانواده معمولاً ۲،۴ سال عنوان شده است. در حالی که مدت زمان اقامت در خانه‌های اجتماعی به طور متوسط ۱،۸ سال بود، این مدت در خانواده‌های سرپرست ۲،۴ سال بوده است.**

**مهم ترین دلیل برای قرار گرفتن این اطفال و نوجوانان در خانه های اجتماعی یا خانواده های سرپرست در ۳۰ درصد موارد، ناپدید شدن یا فقدان شخص مسئول نگهداری، مانند ورود بدون همراه از خارج یا بیماری یکی از والدین بوده است. دومین دلیل بزرگ در سال ۲۰۲۳، تهدید رفاه کودک بود. سومین دلیل عمده، محدودیت‌های توانایی‌های تربیتی والدین بوده است.**

## سازمان ملل: حدود ۵۴۰ هزار نفر از لبنان به سوریه فرار کرده اند

مهاجرنیوز




**جنگ در لبنان باعث موج عظیمی از فرارها شده است. حالا بسیاری از مردم به کشور همسایه، سوریه پناه می‌برند، در کشوری که خود درگیر جنگ داخلی است.**

از زمان تشدید جنگ بین اردوی اسرائیل و ملیشه های حزب‌الله طرفدار ایران در لبنان، طبق آمار سازمان ملل حدود ۵۴۰ هزار نفر به کشور همسایه، سوریه، که درگیر جنگ داخلی است، پناه برده‌اند. به گزارش دفتر کمک‌های اضطراری سازمان ملل (OCHA)، حدود دو سوم از پناهجویان از لبنان آمده اند و حدود یک سوم آن‌ها شهروندان لبنانی می‌باشند.

طبق اطلاعات حکومت لبنان، پیش از تشدید اخیر درگیری‌ها با اسرائیل، حدود ۱،۵ میلیون پناهنده سوریایی در لبنان زندگی می‌کردند. بیشتر آن‌ها از سال ۲۰۱۱ و به دنبال جنگ داخلی در کشور شان، به لبنان پناه آورده بودند. جمعیت لبنان حدود شش میلیون نفر است.

اسرائیل علاوه بر جنگ در نوار غزه، علیه حزب‌الله نیز درگیر جنگ است. به گفته اسرائیل، حزب‌الله برای حمایت از حماس، که به تاریخ ۷ اکتبر سال ۲۰۲۳ حمله خونین با حدود ۱۲۰۰ کشته در اسرائیل انجام داده بود، به اسرائیل شلیک می‌کند. اسرائیل ابتدا با حملات تلافی‌جویانه به شلیک‌های حزب‌الله واکنش نشان داد و از ماه سپتمبر امسال، حملات هوایی وسیع و یک حمله زمینی در جنوب لبنان را آغاز کرد.